مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۱٦مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر اتمه | ٤٤۱مه گڼه

## ځیره

۴ مخ

### محمد هاشم میوندوال

میوندوال به ویل، ولسواکي، ازادي، انساني کرامت ته درناوی، د قانون حاکمیت، مساوات، تعاون، ټولنیز پرمختګ او دې ته ورته نور هغه موارد دي چې افغانان شدیده اړتیا ورته لري او حکومت باید د خلکو دا ارمانونه پوره کړي.



### په خوست کې ۲۵۰ بېوزله کورنیو ته د چرګانو کورني فارمونه جوړېږي



د کرنې وزارت په هېواد کې د چرګانو روزنې د ودې او د بېوزله کورنیو د اقتصادي ودې په پار، دا ځل د خوست ولایت په دوو ولسوالیو «ګربز او ځاځي میدان» کې د ۲۰ میلیونو افغانیو په لګښت، ۲۵۰ بېوزله کورنیو ته د چرګانو د کورنیو فارمونو جوړولو لړۍ پیل کړې ده.

د خوست د کرنې رییس حفیظ الله شاه نوري په خبره، د دې پروګرام په لړ کې د خوست ولایت د ګربز او ځاځي میدان ولسوالۍ ۲۵۰ بېوزله کورنیو ته سل قطعه‌یي نیمه سوداګریز د هګیو چرګانو فارمونه جوړېږي او د دې ترڅنګ، هرې کورنۍ ته سل نسلي چرګان، ٦۰۰ کیلوګرامه د چرګانو خوراکي توکي، واکسین او نور اړین توکي ورکول کیږي. د خوست د کرنې ریاست چارواکي وایي، د دغو ۲۵۰ بېوزله کورنیو د اقتصادي ځواکمنتیا په پار، د کرنې وزارت د بښوالۍ او مالدارۍ ملي برنامې «NHLP» په مرسته دا پروسه پیل شوې ده.

# د نوماندانو شورا: د کمرنګه ګډون او درغلۍ په اساس جوړېدونکی حکومت مشروعیت نه لري



۳

د حکومت خپلمنځي لانجې او زموږ راتلونکی
۲ مخ

د اکتوبر اوومه؛ پر افغانستان د امریکا برید، دلیلونه او بدیلونه
۲ مخ

آیا د ځان لپاره موخې لرې؟
۳ مخ

## سېو د چیلډرېن: هغه افغان ماشومان چې اتلس کلن دي، ټول عمر یې په جګړو کې تېر شوی دی

د ماشومانو د ساتنې یا «Save the Children» ادارې ویلي، هغه افغان ماشومان چې اوس اتلس کلن کېږي، ټول عمر یې په جګړو کې تېر شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ د «اکتوبر ۷مه» پر افغانستان د امریکا د برید اتلس کاله پوره شول. له ماشومانو څخه د ملاتړ یاد سازمان اتلسم کال ته د امریکا او طالبانو جګړې د داخلېدو په مناسبت اعلامیه کې ویلي، افغان ۱۸ کلنو ماشومانو خپل ټول ژوند په جګړه کې تېر کړی دی. په دغه بیان کې په افغانستان کې د «Save The Childredn» رییس اونو وان مانین له قوله ویل شوي، چې افغان ماشومان هره ورځ د بمونو په چاودنو کې ژوند کوي.

یاد سازمان همدارنګه ویلي، چې په افغانستان کې د رواني جګړې ۸۴ سلنه قربانیان یوازې تر اتلس کلنۍ کښته کم عمره ماشومان تشکیلوي.

د ماشومانو د ساتنې دغه سازمان زیاتوي، چې دا مهال د ناامنیو له امله ۳.۷ میلیونه ماشومان ښوونځیو ته له تګ څخه محروم شوي، چې ٦۰ سلنه یې یوازې نجونې دي.

یاد سازمان افغانستان د ماشومانو لپاره له خطرناکو هېوادونو څخه یاد کړی او همدارنګه یې ویلي، چې ډېری افغان ماشومان د مجبورۍ له امله خطرناکو کارونو ته مخه کوي.

د ماشومانو د ساتنې دغه بنسټ د جګړې له ټولو غاړو څخه غوښتي چې په جګړو کې د ماشومانو له استفادې څخه ډډه وکړي. دا په داسې حال کې ده چې د ملګرو ملتونو د راپور له مخې، په تېرو څلورو کلونو کې د تاوتریخوالي په پېښو کې ۳۵۰۰ افغان ماشومان وژل شوي دي.

## عایشه خُرم د ۲۰۱۹ ز کال لپاره په ملګرو ملتونو کې د افغان ځوانانو استازې ټاکل شوې



۳ مخ

## در نتیجۀ یک انفجار در جلال آباد ۱۰ تن کشته و ۲۷ تن دیگر زخمی شده اند



در شهر جلال آباد مرکز ولایت ننگرهار، بر موتر نوع کاستر قوماندانی جلب و جذب اردوی ملی، انفجار صورت گرفته است که در اثر آن، ۱۰ تن کشته شده و ۲۷ تن دیگر زخم برداشته اند.

به گفتۀ مقامات، در موتر فوق، جوانانی سوار بودند که به صفوف اردوی ملی جذب شده و برای آموزش به شهر کابل انتقال داده میشدند.

عطاءالله خوگیانی سخنگوی والی ننگرهار به رسانه ها گفته است که حوالی ساعت ۴:۳۰ عصر دیروز، در منطقۀ «سپیني ماڼۍ هوټل» در مربوطات ناحیۀ سوم شهر جلال آباد، بر یک موتر کاستر قوماندانی جلب و جذب اردوی ملی انفجار به وقوع پیوسته است.

وی افزوده است که این انفجار، ناشی از مواد منفجرۀ جاسازی شده در زرنج که در کنار سرک ایستاده بود، صورت گرفته است که از اثر آن ۱۰ تن کشته شده و ۲۷ تن دیگر زخم برداشته اند.

بر اساس معلومات وی، در جمع کشته شده گان یک طفل نیز شامل است.

گلزاده سنگر سخنگوی شفاخانۀ حوزوی شهر جلال آباد، به آژانس خبری پژواک گفته است که از محل رویداد به این شفاخانه، یک جسد و ۲۷ مجروح انتقال داده شده اند. مسئولیت این رویداد را تاهنوز کسی بر عهده نگرفته است.



Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دريـځ

### د حکومت خپلمنځي لانجې او زموږ راتلونکی

د ارګ لخوا د بهرنيو چارو وزارت وياند صبغت الله احمدي له کاره ګوښه اعلان شوی، خو نوموړی لا هم کار ته دوام ورکوي او وايي چې ارګ يې د ګوښه کولو صلاحيت نه لري. نوموړی وايي چې د ملي يووالي حکومت د يوې هوکړې پر اساس جوړ شوی دی، نو ځکه دی پر خپله دنده پاتې کېږي او کار ته دوام ورکوي. ارګ وروسته له هغې د صبغت الله احمدي د ګوښه کولو اعلان وکړ، چې نوموړي پاکستان ته د طالبانو د پلاوي د سفر هرکلی وکړ. ارګ دا سفر وغانده او بيا يې د صبغت الله احمدي ثرګندونې د ده شخصي نظر وګاڼه. د ارګ لخوا د نوموړي له ګوښه کولو وروسته اجرايه رييس ډاکټر عبدالله وويل چې ښاغلي احمدي د حکومت دريځ بيان کړی او هغه به د پخوا په شان د بهرنيو چارو وزارت وياند وي.

په ملي يووالي حکومت کې دا ډول لانجې اوسنۍ نه دي، خو په دومره ټيټه کچه او د يوه وياند په تړاو دا ډول لانجه مخينه نه لري. اوس چې ټاکنې شوې او دواړه لوري د بريا ادعا کوي، دغه ډول دريځونه به ستونزې لا زياتې کړي. که څه هم له حقوقي اړخه ولسمشر حق لري يو څوک له دندې لرې کړي، خو له دې امله چې حکومت د اساسي قانون پر اساس نه، بلکې د يوې هوکړې پر اساس دی، ستونزه رامنځ ته شوې ده او د ولسمشر صلاحيتونه نه اعمالېږي. تر دې وړاندې لانجو کې هم ولسمشر کم توانېدلی چې خپله پرېکړه عملي کړي. د بېلګې په ډول، ولسمشر ونه توانېد چې د اوبو او برېښنا لپاره ګومارل شوی سرپرست تيمور شاران پر څوکۍ کښېنوي. دغه راز په نورو برخو کې هم ستونزې شته، خو ځينې دا ډول ستونزې په منځګړيتوب او درېيمه لار حل شوې چې د بهرنيو چارو وزارت د يوې مرستيالې ګومارنه يادولی شو.

اوس وېره دا ده چې ټاکنې به دويم پړاو ته ځي. دويم پړاو ټاکنې د ژمي او يخنۍ له امله سږ کال شونې نه دي، نو ځکه به بل کال ته ځي. اوس که ټاکنې بل کال ته پاتې کېږي او دلته ولسمشر او اجرايه رييس په داسې وړو او بې مانا مسايلو کې سره لاس او ګريوان وي، نو موږ خورا ناوړه حالت ته روان يو. تر راتلونکي کال پورې به زموږ حکومت لا له زياتې داخلي ګډوډۍ، لانجو او ناقانونۍ سره مخ وي. د دې ټولو ستونزو او لانجو زيان به افغانستان او افغان ولس ته اوړي. ستونزه هغه وخت نوره هم خطرناکه ښکاري چې کله موږ د سولې د خبرو د بيا پيل، موافقې او لويو مسايلو په اړه فکر کوو. که امريکا له طالبانو سره بيا خبرې پيلوي او دلته موږ پر خپلمنځي لانجو اخته، لوېدلی او شرمېدلی حکومت ولرو، نو نه يوازې دا چې د سولې په خبرو کې به زموږ سترې ګټې خوندي نه شي، بلکې دا خبرې او سياسي حل موږ ته پر يو بل ستر بحران بدلېدلی شي. له همدې امله پکار ده چې افغان سياستوال او ولس د ملي يووالي حکومت په نامه له دغه عذاب څخه نور ځان خلاص کړي او له يوې بلې لارې د افغانانو يو نماينده حکومت جوړ کړي، څو هم اوسنۍ ستونزې حل کړي او هم د سولې په چاره کې زموږ ښه استازيتوب وکړي.

# د اکتوبر اوومه؛

## پر افغانستان د امريکا بريد، دليلونه او بديلونه

لیکنه: جواد تيموري

د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر په اوومه امريکا په افغانستان کې د تروريزم په پلمه د اوږدې او خونړۍ جګړې نوی فصل پرانيست. که څه هم امريکا هغه مهال په افغانستان کې دغه جګړه د سپټمبر د يوولسمې د بريدونو د غچ په نوم پيل کړه، خو اوسمهال د جګړې بڼې ته په کتو، داسې ښکاري چې دغه پلمه تر ډېره منطقي نه وه، ځکه اوسمهال ټول هغه عوامل چې امريکا يې له کبله پر افغانستان بريد وکړ يا له منځه تللي او يا هم برعکس ډېر شوي دي. په دې ليکنه کې مو پر افغانستان د امريکا د بريد دليلونه او بديلونه څېړلي او همدا راز مو اوسنی او د ۲۰۰۱ ز کال وضعيت پرتله کړی دی.

**امريکا ولې پر افغانستان بريد وکړ؟!**

د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر په ۱۱مه د امريکا پر سوداګريزو مرکزونو باندې تر بريد وروسته، چې په زرګونو امريکايان پکې ووژل شول، د متحده ايالتونو د هغه مهال ولسمشر جورج ډبليو بوش د دغو بريدونو پړه پر القاعده شبکې واچوله. د امريکا حکومت ټينګار کاوه چې په افغانستان کې د القاعدې شبکې پوځي مرکزونه دي او دغه ډله د لوېديځې نړۍ خلکو ته ګواښ پېښوي. امريکايي حکومت غوښتل چې طالبان د القاعدې مشر اسامه بن لادن ورته وسپاري، خو طالب مشرانو په وار وار د هغه د مېلمه ګڼلو پر حالت ټينګار کاوه او له امريکايي چارواکو څخه يې پر هغه د لګېدلو تورونو د ثبوت غوښتنه کوله. دا لړۍ تر هغې روانه وه چې کله طالبانو امريکايانو ته د اسامه بن لادن له ورسپارلو څخه انکار وکړ او ويې ويل چې دوی پر نوموړي د تورونو د ثبوتونو په صورت کې تيار دي، چې هغه عربي هېوادونو ته د محاکمې لپاره وروسپاري، خو تر نانديريو وروسته عربي هېوادونو هم له دې وړانديز سره علاقه ونه ښوده.

امريکايي حکومت د وروستي ګواښ په توګه د طالبانو حکومت ته ګوتځنډنه وکړه چې که اسامه ورته ونه سپاري، نو امريکايي پوځ به پر افغانستان بريد وکړي، خو طالبانو د امريکا دغه ګواښ ته په جدي سترګه ونه کتل او د ملګرو ملتونو له لارې يې د حل لپاره لاس وغځاوه. دا چې د طالبانو حکومت په بشپړه توګه د ملګرو ملتونو لخوا په رسميت نه و پېژندل شوی، نو طالبان يې له پامه وغورځول. امريکا هغه مهال د شمال ټلوالې په استازيتوب د برهان الدين رباني له پلويانو سره د مشورو پر اساس، پر افغانستان د بريد امر ورکړ چې په ترځ کې يې د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر په ۷مه د افغانستان پر خاوره په ډېره بې پروا توګه بريدونه پيل کړل.

**د اکتوبر اوومه او پر افغانستان د امريکا بريدونه!**

کله چې د سپټمبر د ۱۱مې پېښه وشوه، نو القاعده شبکه د دغه بريد مسووله وګڼل شوه او په همدې بهانه امريکا پر افغانستان يرغل وکړ. امريکا په افغانستان کې د طالبانو د حکومت پر نسکورولو سره په دغه هېواد کې د خونړۍ جګړې نوی باب پرانيست. پر امريکا د سپټمبر د ۱۱مې تر بريد وروسته هم اسامه بن لادن په افغانستان کې و او له همدې کبله د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر په ۲۰مه د امريکا د وخت ولسمشر جورج ډبليو بوش طالبانو ته سپارښتنې وکړې، چې د القاعده شبکې ټول مشران دې امريکا ته وسپارل شي، له طالبانو سره ټول بهرني زندانيان دې خوشې او امريکا ته وسپارل شي، د القاعدې شبکې ټول روزنيز کمپونه دې وتړل شي او امريکا ته دې اجازه ورکړل شي چې په افغانستان کې د القاعده شبکې ټولو کمپونو ته لاسرسی ولري او هغه وپلټي.

خو په پاکستان کې د طالبانو مېشت سفارت اعلان وکړ چې متحده ايالتونه هېڅ داسې سند نه لري، چې دا په ډاګه کړي چې اسامه په دغه بريد کې لاس درلود. په پاکستان کې د طالبانو د وخت سفير ملا عبدالسلام ضعيف وويل چې د طالبانو حکومت هغه وخت ډېره هڅه وکړه، چې په دغه حمله کې د اسامه د لاس لرلو په تور شواهد تر لاسه او دغه حقيقت په ډاګه کړي، خو امريکا پر افغانستان د بريد له تصميم څخه په شا نه شوه. د نوموړي په خبره، د سپټمبر د ۱۱مې پېښه ناڅاپي نه وه، بلکې امريکا له دې وړاندې په سيمه کې د خپلو اوږدمهاله موخو د تامين لپاره پر افغانستان د بريد اراده درلوده. هغه ويلي چې طالبانو امريکا ته درې ځله وړانديز وکړ چې اسامه به په افغانستان او يا کوم بل درېيم هېواد کې محاکمه کړو، خو له دې سره سره هم امريکا دغه وړانديز رد کړ.

د اکتوبر په اوومه په افغانستان کې د امريکا هوايي بريدونه پيل شول او د همدې مياشتې په ۳۱مه د امريکا په ملاتړ، شمال ټلواله کابل ته ننوته او په دې سره د طالبانو حکومت نسکور شو. ورپسې د نومبر په ۲۵مه په بن کې د افغانستان په تړاو کنفرانس جوړ شو او د لسو ورځو په جريان کې د حامد کرزي په مشرۍ موقته اداره رامنځته شوه.

**په افغانستان کې د امريکا اتلس کلنه جګړه، لاسته راوړنې او مرګ ژوبله**

که څه هم امريکا پر افغانستان تر بريد وروسته ژمنه وکړه چې په دغه هېواد کې به امنيت راولي، ښه حکومتولي به رامنځته کوي او د کوکنارو کښت به له منځه وړي، خو تر اتلس کلنې جګړې وروسته نه يوازې چې امريکا خپلې ژمنې پوره نه کړې، بلکې د هغه وضعيت په پرتله په افغانستان کې وضعيت نور هم ترينګلی شوی دی. افغان حکومت څو کاله کېږي چې په نړۍ کې د فاسدو هېوادونو په سر کې راځي، له امنيتي اړخه هم د دغه هېواد امنيت د بل هر وخت په پرتله ترينګلی شوی او هغه مهال يوازې طالبان د ترهګرې ډلې په توګه پېژندل کېدل، خو اوسمهال پخپله د امريکايي چارواکو په وينا، په افغانستان کې پر طالبانو سربېره، د داعش خطرناکې ډلې په ګډون، له ۲۲ زياتې ترهګرې ډلې فعاليت کوي.

په تېرو ۱۸ کلونو کې د جګړې له کبله په لسګونو زره افغانان وژل شوي او لاهم هره ورځ لسګونه نور يې قرباني کېږي. په ۲۰۰۱ ز کال کې د طالبانو ماتې يوه موقتي ماتې وه، خو دغه ډله اوسمهال د پخوا په پرتله تر بل هر وخت ډېره پياوړې شوې، جګړې د هېواد ټولو برخو ته غځېدلې او د افغانستان نږدې ۵۰ سلنه خاوره د دوی په کنټرول کې ده.

دغه وضعيت ته په کتو، امريکا په دې وروستيو کې اړ شوه چې د جګړې پر ځای د سولې پر پروسې تمرکز ډېر کړي، نو له همدې کبله د ډونالډ ټرمپ په مشرۍ امريکايي حکومت نږدې يو کال وړاندې له طالبانو سره د خبرو لپاره د خليلزاد په مشرۍ پلاوی وټاکو او دواړو لورو د قطر په پلازمېنه دوحه کې مخامخ خبرې پيل کړې. د دواړو لورو ترمنځ دغه خبرې ډېرې اوږدې شوې چې تر لسو مياشتو او نهو پړاوونو پورې وغځېدې، خو دغه خبرې وروسته له هغې ناکامې شوې کله چې طالبانو په کابل کې په يوه بريد کې د يوه امريکايي سرتېري په ګډون، دوه د ناټو سرتېري او لس افغانان ووژل. له دې بريد وروسته، د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په يوه ټويټ کې له طالبانو سره خبرې لغوه اعلان کړې او ګواښ يې وکړ چې پر طالبانو به خپلو بريدونو ته زور ورکړي.

د ټرمپ له دغه اعلان وروسته، يو ځل بيا جګړې زور اخيستی چې ډېرې قربانۍ يې عام افغانان ورکوي. طالبان په ښارونو کې ځانمرګي بريدونه کوي چې تر ډېره پکې ملکيان وژل کېږي، کورونه يې ورانېږي او مالي زيانونه ورته اوړي، خو له بله اړخه په هوايي بريدونو او شپنيو عملياتو کې هم تر ډېره دوی په نښه کېږي.

که څه هم د امريکا او طالبانو ترمنځ خبرو افغانان تر يوې کچې هيله من کړي وو چې په هېواد کې به يې روانه خونړۍ جګړه پای ته ورسېږي، خو د ټرمپ وروستي اعلان دغه هر څه په اوبو لاهو کړ. اوس که څه هم د سولې د بيا پيل لپاره هڅې روانې دي، خو د ټرمپ بې ثباته دريځ او د افغان حکومت نامعلوم برخليک پر دې پروسې سيوری غوړولی دی او لاهم نه ده معلومه چې دا خبرې به بيا پيل شي او که نه.

# ناټو: د رای شمېرنې پروسه د چټکۍ کار نه دی، حوصله غواړي



په افغانستان کې د ناټو سازمان ملکي استازي نېکولاس کې ويلي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د معتبرو رايو د شمېرنې د شفافيت د ډاډمنولو لپاره سخت کار کوي.

هغه د رای شمېرنې پروسې ته په اشارې سره ويلي چې دا د چټکۍ کار نه دی او حوصله غواړي.

نوموړی په کابل کې د برېټانيا د سفيرې اليسون بلېک په ملتيا د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته ورغلی و او د رايو د شمېرنې او جدول بندۍ پروسه يې له نږدې کتلې ده.

په کابل کې د برېټانيا سفارت په يوه اعلاميه کې ليکلي چې نېکولاس کې او اليسون بلېک دواړو د ټاکنو کمېسيون ستايلی، چې خپلواکي يې ساتلې او لا يې ټينګار پرې کړی چې تر وروستي ممکنه بريده دې شفافيت يقيني کړي.

دوی له کانديدانو او د هغوی له پلويانو او خلکو غوښتي چې د ولسمشرۍ ټاکنو د لومړنۍ او وروستۍ نتيجې لپاره دې د ټاکنو خپلواک کمېسيون اعلان ته په تمه واوسي.

د برېټانيا سفيرې اليسون بلېک ويلي چې هېواد يې د افغانستان د ټاکنو له خپلواکو کمېسيونونو ملاتړ کوي او ټينګار يې کړی چې د دوی کارونه بايد له لاسوهنو خوندي پاتې شي.

دا په داسې حال کې ده چې ناټو د ولسمشرۍ ټاکنو د تر سره کېدو لپاره له امنيتي ارګانونو سره د روزنې او مشورې همکاري کړې او هم يې په تخنيکي چارو کې د همکاريو ژمنه ورکړې ده.

برېټانيا هم د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکنو له تر سره کېدو سره نږدې لس ميليونه ډالر مرسته کړې ده.

د ټاکنو له ټولټال نږدې يو نيم سل ميليونو ډالرو بوديجې د ۵۹ ميليونو ډالرو مرستې ژمنه نړيوالې ټولنې کړې وه.

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون ويلي چې د دوی له کارونو د نړيوالې ټولنې ملاتړ د ټاکنو د پروسې شفافيت او د راتلونکي منتخب حکومت لپاره ډېر ارزښت لري.

د دغه کمېسيون وياند عبدالعزيز ابراهيمي ازادي راډيو ته ويلي: «د انګلستان سفيرې او د ناټو ملکي استازي دواړو د ټاکنو خپلواک کمېسيون له بېلابېلو برخو ليدنه وکړه او ويې څارلې، دوی د ټاکنو له پروسې او راتلونکي کې د نتايجو له اعلانه هرکلی وکړ او د ميزان شپږمې ولسمشرۍ ټاکنې يې تېرو ټاکنو ته په کتو، يو له ښو انتخاباتو ياد کړل، هم په مالي او هم تخنيکي چارو کې د نړيوالې ټولنې ملاتړ او ډاډ ورکول ډېر مهم او حياتي دي».

د يادونې ده چې د ولسمشريزو ټاکنو د څارنې لپاره کورنيو او بهرنيو ادارو او سازمانونو څه باندې يو لک څارونکي ګومارلي وو.

د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ اجرايه رييس يوسف رشيد ازادي راډيو ته ويلي، د ټاکنو له روڼتيا د نړيوالې ټولنې ملاتړ د کانديدانو لخوا د دې پروسې د ننګولو په مخنيوي کې هم مهم رول لوبولی شي.

# د نوماندانو شورا: د کمرنگه گډون او درغلۍ په اساس جوړېدونکی حکومت مشروعیت نه لري



د ولسمشرۍ ټاکنو د نوماندانو شورا وايي، د میزان د شپږمې انتخابات گټونکی نه لري. یاده شورا وايي چې په دغو ټاکنو کې پراخې درغلۍ شوې، د خلکو د حضور کچه ډېره کمرنگه وه او که د دغو ټاکنو په پایله کې کوم حکومت رامنځ ته کیږي، مشروعیت به ونه لري. د ولسمشرۍ ټاکنو نوماندان وايي، د پاکو او ناپاکو رایو د بېلېدو په صورت کې یو میلیون رایې باطلیږي او که پاکې رایې له ناپاکو بېلې نه شي، د تلې میاشتې د شپږمې ټاکنې باید لغوه اعلان شي.

د ولسمشریزو ټاکنو له تر سره کېدو وروسته، ټولو ټاکنیزو ټیمونو پر خپل وار پر ټاکنیز بهیر او د کمېسیونونو پر ځینو کړنو او فعالیتونو نیوکه کړې ده. پرون تازه د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو شورا خبري کنفرانس ورکړ او په دغه کنفرانس کې یې یو پرېکړه لیک هم رسنیو ته وړاندې کړ. دوی ټینگار کاوه چې په تېرو ټاکنو کې پراخه درغلي شوې ده او باید د ټاکنو خپلواک کمېسیون پاکې رایې له ناپاکو بېلې کړي، څو یو مشروع او د خلکو په رایه حکومت خپل کار پیل کړي.

دغه نوماندان د ملي یووالي حکومت دوی دغه راز په خپلو خبرو کې دغه ټاکنې له هره اړخه له ستونزو ډکې وبللې او په خبره یې، ښايي مشروعیت یې تر پوښتنې لاندې وي. دوی وايي چې په ټاکنو کې د خلکو کم گډون او بیا د ځینو نوماندانو له لوري پراخ فساد فاجعه ده او دا مسئله به ټاکنې جنجالي کړي. نوماندان دا هم وايي چې د تلې د شپږمې ټاکنې گټونکی نه لري او د دغسې ټاکنو په پایله کې جوړېدونکی حکومت د مشروعیت له نشتوالي سره مخ دی. د ولسمشریزو ټاکنو نوماند فرامرز تمنا وايي، ښايي یوازې یو نیم میلیون کسانو په ټاکنو کې برخه اخیستې وي او د دوی رایې شفافې دي او په وینا یې تر دې هاخوا، نورې رایې ښايي باطلې او یا بې بایومټریکه وي. تمنا وايي: ((که بایومټریک او سمې رایې له نورو جلا کړو، نو یوازې یو نیم میلیون رایې به سمې پاتې شي چې په دې سره د حکومت مشروعیت له پوښتنې سره مخ کېږي)).

د ولسمشریزو ټاکنو دغه نوماندان وايي، چې خیالي او تقلبي رایې ورته په هېڅ صورت د منلو نه دي او خبرداری ورکوي چې که پاکې رایې له ناپاکو جلا نه شي، د تلې د شپږمې ټاکنې به لغوه شي. د ولسمشریزو ټاکنو نوماند عنایت الله حفیظ وايي، په دومره کمرنگه گډون او کمو رایو جوړېدونکی حکومت به اړین مشروعیت ونه لري. نوموړی وايي: ((که د ټاکنو خپلواک کمېسیون دا وړتیا ونه لري چې پاکې رایې له ناپاکو بېلې کړي، نو دا ممکنه ده چې ټاکنې لغوه اعلان شي)).

مشران په هېواد کې د هر ډول ناخوالو عاملان بولي. نوماندان همداراز له نړیوالو غواړي، چې ټاکنې دې نه بحراني کوي او د افغانستان په کورنیو مسائلو کې دې له مداخلې ډډه وکړي. د ولسمشریزو ټاکنو نوماند رحمت الله نبیل وايي: ((په دې ورځو کې ځینې سفارتونه او ډیپلوماتان په ټاکنو کې نظرونه ښکاره کوي. دوی باید پوه شي چې دا زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه ده او په دې مانا ده چې دوی په هېواد کې د گډوډیو اصلي لاملین دي)).

بلخوا د گلبدین حکمتیار په مشرۍ د سولې او اسلامي عدالت ټاکنیز ټیم له کمېسیون څخه په ځینو مواردو کې وضاحت غوښتی. دغه ټاکنیز ټیم د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته په یوه پوښتنلیک کې په ټاکنو کې د درغلیو، بایومټریک دستگاوو، سټیکر، په ټاکنو کې د رایې له حقه د خلکو محرومېدو او ډېرو نورو مواردو په تړاو د وضاحت غوښتنه کړې ده. د سولې او اسلامي عدالت ټاکنیز ټیم وايي، د دولتي ټیمونو دوه ثلثه رایې تقلبي، جعلي او خیالي دي او هېڅوک نه شي کولی هغه رایې چې په پاڼو کې د دولت جوړوونکي ټیم په گټه حساب شوې، د بایومټریک پر اساس واقعي ثابتې کړي. یوازې نوماندان نه، بلکې پر ټاکنو څارونکي ځینې بنسټونه هم پر دې باور دي چې حاکمو ټیمونو په ټاکنو کې پراخه درغلي کړې ده او په دې توگه هڅه کوي چې ځان واک ته ورسوي. خو د ټاکنو کمېسیون هم په ځلونو په ټاکنو کې د شفافیت ډاډ ورکړی دی.

## عایشه خُرم د ۲۰۱۹ ز کال لپاره په ملگرو ملتونو کې د افغان ځوانانو استازې ټاکل شوې



عایشه خُرم د ۲۰۱۹ ز کال لپاره په ملگرو ملتونو کې د افغان ځوانانو د استازې په توگه ټاکل شوې ده.

نوموړې به د نړۍ له نورو برخو د ورته ټاکل شویو ځوانانو له ډلې سره یوځای، د نوي نسل په استازیتوب په نننۍ نړۍ کې د هغوی د غږ د اورېدو لپاره کار کوي.

عایشه خُرم به د افغان ځوانانو په استازیتوب د امنیت شورا په گډون، په نړیوالو ناستو کې برخه اخلي او د افغان ځوانانو هغه ستونزې به نړیوالو ته رسوي چې دا مهال ورسره مخامخ دي.

نوموړې په راتلونکو اونیو کې جرمني ته ځي او هلته به د جرمن ځوانانو له استازو، حکومتي چارواکو او مدني ټولنو سره خبرې او ناستې وکړي.

جرمني چې دا مهال د ملگرو ملتونو د امنیت شورا غړی دی، د ځوانانو د استازو د دغه پروگرام مسوولیت یا ملاتړ هم پر غاړه لري.

ملگرو ملتونو ته د افغانستان د ځوانانو د دویم ځلي استازې په توگه د اغلې خُرم غوره کېدل له ډېرو پړاوونو تېر شوي چې پکې ویډیویي او شخصي مرکې او دغه راز تېره ورځ په کابل کې یو بحث هم شامل و. د غوراوي په پلاوي کې د افغانستان لپاره د جرمني سفیر پېټر پروال، د بهرنیو چارو مرستیال وزیر ادریس زمان، د افغان مفکرینو موسسې اجرایوي مشرې صوفیا رامیار او د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړې استازې تدامیچي یاماموتو شامل وو.

## ټاکنو کمېسیون: د ټاکنیزو پایلو ۸۵۵۶ پاڼې په معلوماتي سیسټم کې د داخلولو لپاره چمتو شوې دي




د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي چې د تېرو ولسمشریزو ټاکنو د ۸۵۵۶ محلونو پایلې تر ارزونې او تصفیې وروسته چمتو دي چې د معلوماتو جمع بندۍ مرکز سیسټم ته ور زیاتې شي. د دغه کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیونو له چارواکو سره په گډه خبري ناسته کې ویلي، د دوی کارونه په چټکۍ سره پر مخ روان دي او هڅه یې دا ده چې لومړنۍ پایلې په خپل وخت اعلان کړي.

هغې زیاته کړې: «تر دې مهاله د نتایجو جمع بندۍ ملي مرکز په ټولیز ډول د نتایجو ۱۱۱۲۹ پاڼې تر لاسه کړې. له دغو پاڼو ۱۰۴۱۱ پاڼې د نتایجو جمع بندۍ ملي مرکز کې سکن شوې دي. د پایلو ۱۰۳۵۷ فورمې تصفیه شوې، د پایلو ۳۵۴۸ پاڼې د نتایجو جمع بندۍ ملي مرکز کې آرشیف شوې او د پایلو ۸۵۵۶ پاڼې سیسټم ته دننه کولو ته چمتو دي». نوموړې دغه راز زیاته کړې، د دغه کمېسیون ډیجیټال سنټر ته د ۲۱۹۵۸ محلونو پایلې رسېدلې او ۱۴۵۰۰ یې پروسس شوې دي.

د یاد کمېسیون د معلوماتو له مخې، د ټاکنو په ورځ په ټول افغانستان کې د رای اچونې ۲۶۵۶۸ محلونه پرانیستل شوي وو. بلخوا د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون مشرې زهرې بیان شینوارې ویلي چې دوی تر دې مهاله په ټول افغانستان کې ۴۵۲۸ شکایتونه تر لاسه کړي دي. د نوموړې په خبره، دغه شکایتونه پر ۳۲ کټگوریو وېشل شوي او په لومړي سر کې په ولایتي دفترونو کې ارزول کېږي. هغې یوځل بیا ډاډ ورکړی چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون خپل کارونه په پوره شفافیت او بې طرفۍ مخته وړي او تورې او سپینې رایې به سره جلا کړي.

## سپینه ماڼۍ: امریکا به د ترکي ځواکونو په عملیاتو کې هېڅ رول ونه لوبوي

سپینې ماڼۍ ویلي چې امریکا به د سوریې په شمال ختیځ کې د کردانو پر وړاندې د ترکي ځواکونو په نظامي عملیاتو کې هېڅ رول ونه لوبوي.

له سپینې ماڼۍ څخه په خپره شوه اعلامیه کې راغلي چې له دې سره به ترکیه په سیمه کې د داعش بندیانو مسووله شي.

دا په داسې حال کې ده چې ترکیه غواړي د دغو عملیاتو په ترڅ کې د سوریې هغه کردان له خپلې پولې په شا کړي، چې انقره یې ترهگر بولي.

ترکیې ویلي، د دغو عملیاتو یوه موخه دا ده چې له سوریې سره د پولې په اوږدو کې شاوخوا دوه میلیونه سوریایي کډوال په خوندي زون کې ځای پر ځای کړي.

د سپینې ماڼۍ دغه څرگندونې د ترکیې د ولسمشر رجب طیب اردوغان هغو ټلیفوني خبرو ته غبرگون دی، چې له خپل امریکایي سیال ډونالډ ټرمپ سره یې کړې وې او په سوریه کې یې د خوندي سیمې په رامنځته کولو کې د امریکا د پاتې راتلو له امله اندېښنه ښودلې وه.

ترکیه ادعا کوي چې د خوندي سیمو په جوړولو کې امریکا بې پروا ده.

د سپینې ماڼۍ په اعلامیه کې ویل شوي: «ترکیه به ژر له خپل اوږد نظامي پلان سره د سوریې شمال ختیځ لور ته حرکت وکړي. امریکایي ځواکونه به یې نه ملاتړ وکړي او نه به هم پکې برخه واخلي. امریکایي ځواکونه چې د داعش خلافت یې مات کړ، نور به په سیمه کې حضور ونه لري».

په خبرپاڼه کې دغه راز راغلي چې ترکیه به د داعش د هغو بندیانو مسوولیت پر غاړه واخلي، چې په تېر دوو کلونو کې نیول شوي دي.

سرچینه زیاتوي: «د امریکا حکومت؛ فرانسه، جرمني او نور اروپایي هېوادونه هڅولي چې خپل هغه وگړي بېرته ومني چې له داعش جنگیالیو سره یوځای شوي وو، خو دوی انکار کړی او دوی یې بېرته نه غواړي. امریکا به نور د اوږدې مودې او د امریکایي مالیه ورکوونکو لوړ لگښت له امله دوی ونه ساتي».



دا په داسې حال کې ده چې د عراق په شمال کې د کردانو پر وړاندې د ترکیې د عملیاتو له پای ته رسېدو وروسته، د دغه هېواد ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي چې ډېر ژر به د سوریې په شمال کې د کردانو د وای پي جي ډلې پر وړاندې پراخ پوځي عملیات پیل کړي.

د نوموړي له اعلان وروسته، د سوریې ډیموکراتیکو ځواکونو خبرداری ورکړی چې که انقره پرې هوایي او ځمکني بریدونه وکړي، د ترکیې پر وړاندې به پراخه جگړه پیل کړي.

## د کتاب خبرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◉ لیکوال: ابوبکر صدیق
◉ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

**پنځم څپرکی**
**له منځه تلونکي قومونه**




اسلاماباد په باجوړ کې د جګړې ډېرېدونکي اور ته پاملرنه نه کوله. حکومت هلته د پوله ساتو ځواکونو پر مټ عملیات پیل کړل، د دې سرتېرو مشران په پوځ کې دي، خو دا کسان یې له پښتنو قومونو جذب کړي. دې سرتېرو ښه روزنه او تجهیزات نه لرل چې د پاکستاني طالبانو پر ضد جګړه وکړي. د ۲۰۰۸ز کال په اګسټ کې اسلاماباد جنرال طارق خان د سرحدي ځواکونو مشر کړ چې باید نوي عملیات وکړي. شېردل (د زمري زړه) عملیات ښه پلان شوي وو چې پکې پر ځواکونو سربېره ټانکونو او هلیکوپټرو هم ګډون کړی و.
جنرال له باجوړه ډېرى ځایي اوسېدونکي و ایستل، د سوات، اورکزیو او سویلي وزیرستان اوسېدونکو ته دا کار یو خبرداری و چې باید له عملیاتو مخکې خپلې سیمې خوشې کړي. هلته یاغیانو ته د توپونو، هوایي بریدونو او ځمکنیو عملیاتو چې هلیکوپټرو یې هم ملتیا کوله، لویه ضربه ورسوله. ډېر ژر د دې عملیاتو لاسته راوړنې هغه مهال تر پښو لاندې شوې چې د ۲۰۰۹ز کال په مارچ کې د پاکستان حکومت له طالبانو سره د سولې تړون وکړ.
دا تړون په اساسي توګه نه و تنظیم شوی، بلکې په ترڅ کې یې یو ځل بیا یاغیانو ته د ځواکمنتیا فرصت ورکړ. یاغیانو په سېستماتیکه توګه له دې موکې ګټه واخیسته او د سولې د لښکرو پر نوم یې د سولې کمېټو د غړو وژل پیل کړل، خو اسلام کې د دې کسانو د خوندیتوب لپاره هېڅ پاملرنه نه وه. ډېرو پښتنو پر حکومت او دولتي ادارو تور لګاوه چې هغوی په لوی لاس افراطیانو ته اجازه ورکړې چې د پولې په شاوخوا کې د ناټو او افغان ځواکونو پر ضد وجنګېږي. د پېښور د کډوالو کمپونو ته په سلګونو زره باجوړیان کډوال شول، خو حکومت اساسي مرستې نه ورسره کولې.
د ۲۰۱۰ز کال له عملیاتو وروسته حکومت د طالبانو د ټولیزې ماتې خبر ورکړ، خو پاکستاني ځواکونه د مولانا فقیر پر وژنې توانیدلي نه وو، هغه کنړ ته تښتېدلی و. د ۲۰۱۱ز کال په جون کې یې د پاکستاني طالبانو اند واضح کړ. هغه د پاکستان پر رول ملنډې ووهلې. په یوه مرکه کې یې وویل: ((هر څوک چې فکر کوي، پاکستان په افغانستان کې رول لري، تېروتنه کوي. هغوی خپل هېواد ته سوله نشي راوستی.))
وروسته له هغه محمد د پاکستاني طالبانو د تحریک په اړه داسې وضاحت ورکړ:
((د پاکستاني طالبانو تحریک د پاکستاني حکومت د دوه مخې لوبې او پر وېرې او ډالرو د متکي پالیسیو په ترڅ کې را پیدا شو. که څه هم په نړۍ کې اکثریت مجاهدین ملا محمدعمر خپل مشر ګڼي، خو زموږ تحریک خپلواک دی. موږ په پاکستان کې د خپلې مبارزې لپاره افغان طالبانو ته اړتیا نه لرو، نه هم هغوی په افغانستان کې موږ ته اړتیا لري. زموږ د جګړې ډګرونه جلا دي. پاکستان زموږ او افغانستان د هغوی د جګړې ډګرونه دي.))
د ۲۰۱۲ز کال په مارچ کې د پاکستاني طالبانو د تحریک له مشرانو څخه مولانا فقیر یو ځایي کس و چې له دې تحریک څخه و ایستل شو، د هغه له ایستلو سره کوم کره دلیل اعلان نشو، خو نظریات دا وو چې هغه یې له پاکستاني حکومت سره د مذاکراتو د وړاندیز خوښولو له کبله یې لیرې کړی و. طالبانو باجوړ کې ملا داد الله د خپل امیر په توګه وګماره. ملا داد الله د ۲۰۱۲ز کال په اګسټ کې د امریکایي بې پیلوټه الوتکو په برید کې ووژل شو، وروسته له هغه مولوي ابوبکر د دې تحریک مشر شو. مولانا فقیر د پاکستاني طالبانو له تحریک سره د ۲۰۱۲ز کال په وروستیو کې جوړه وکړه، خو هغه وروسته له هغه چې د امریکایي بې پیلوټه الوتکو له وېرې وتښتېد، بیا هېڅکله د دې تحریک رسمي مشر نشو. د ۲۰۱۳ز کال په فبروري میاشت، په ختیځ افغانستان کې د افغاني استخباراتو او ځانګړو ځواکونو له لوري ونیول شو.
د ۲۰۱۳ز کال په پیل کې اسلاماباد فاټا کې باجوړ د خپلو بریالیو کیسو له ډلې د یوې په نوم څرګند کړ. د سولې د لښکرو، د کلیو د دفاعي کمېټو او شپنیو بندیزونو له لارې یې په باجوړ کې نیمګړی امن راووست. د دې سیمې لوی شمېر وګړي بېرته خپلو سیمو ته راغلل، خو طالبان لا مات شوي نه وو.
د لعل مسجد پېښې د باجوړ تر څنګ په مومند ولسوالۍ کې هم طالبان را پورته کړل. د دې ولسوالۍ نوم د مومندو له قوم سره تړاو لري، ځکه دلته ډېری اوسېدونکي له همدې قوم څخه دي. د لعل مسجد له کلابندۍ څو اونۍ وروسته مخ پټو وسله والو د پښتنو د ازادۍ د جنګیالي حاجي صاحب ترنګزي زیارت قبضه کړ، په لعل مسجد کې د وژل شوو کسانو د یادښت لپاره یې زیارت ته نږدې پر یوه مسجد د لعل مسجد نوم کېښود. په مومندو ولسوالۍ کې د یاغیانو مشري د عبدالولي (عمر خالد) په غاړه وه.
له پامه غورځول شوي مومند ولسوالۍ کې مرمر او نورې غني سرچینې شته، خو په کرنه کې فرصتونه نه لري، ځکه یې ډېری اوسېدونکي ګاونډ کې پېښور درې ته کډوال شوي. د فاټا د نورو ایجنسیو په څېر مومند کې هم د شوروي جګړې پر مهال افغان کډوال او مجاهدین مېشت وو. په ۱۹۸۰ ز کال، په دې سیمه کې د جمیل الرحمن نظامي اډه وه، دلته د تحریک نفاذ شریعت اسلامي او د پنجپیر مدرسې اغېز پروت و. **دوام لري...**

# محمد هاشم میوندوال

شفیق امیرزی



محمد هاشم میوندوال په ۱۹۲۳ ز کال کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي. نوموړی په یوه روحاني او علمي کورنۍ کې دې نړۍ ته راغلی دی او د همدې کورنۍ تر سیوري لاندې رالوی شو. پلار یې په اصل کې د غزني د مقر ولسوالۍ و، خو د کابل په عاشقان عارفان کې اوسېده او په همدې سیمه کې د یوه جومات ملا امام هم و. پلار یې ملنګ سړی و. د دنیا او شتمنۍ په غم کې نه و او عادي ژوند یې کاوه، خو په پوهه او علم سمبال و. مورنی نیکه یې هم عالم سړی وی. صاحبزاده مولوي ګل احمد احمدزی نومېده چې د هېواد په نومتو دیني علماوو کې شمېرل کېږي. نوموړی د اسلامي کنفرانس په لومړۍ غونډه کې د افغانستان استازی و. هلته یې د علمي درایت لرلو له امله، د غونډې مشري هم وکړه او ټولو علماوو یې لیاقت ستایه.
محمد هاشم لومړنۍ زده کړې په غازي لیسه کې بشپړې کړې. بیا حبیبیې لېسې ته لاړ او پاتې زده کړې یې دلته وکړې. قوي استعداد او ذکاوت یې درلود. ځیرک زده کوونکی و. چوپتیا یې تر ټولو ستره ځانګړنه وه. ډېرې خبرې یې نه کولې، خو د خپلو همزولو په منځ کې تر ټولو چالاک، ځیرک او با استعداده و.
د لیسې په وروستیو کلونو کې یې پردیس تخلص کاوه. په ښوونځي کې به یې کنفرانسونه جوړول او ویناوې به یې کولې. په دې وخت کې یې په عاشقان عارفان سیمه کې په خپله غریبانه جونګړه کې له مور، دوو وروڼو او خپلې مېرمنې سره ژوند کاوه. مېرمن یې د توبرکلوز پر ناروغۍ اخته شوه. له یوې خوا یې اقتصادي وضعیت کمزوری و او له بلې خوا د دې ناروغۍ علاج هغه مهال سخت و، نو د همدې ناروغۍ له امله یې مېرمن مړه شوه. میوندوال د خلکو له منځه راپاڅېدلی شخصیت و او تر مرګه یې د خلکو په منځ کې ژوند وکړ.
په ۱۹۴۲ ز کال کې چې کله له ښوونځي فارغ شو، نو هڅه یې وکړه چې خپل سیاسي ذکاوت او فکري پراختیا ډېره کړي. ده په ورځپاڼو کې کار پیل کړ او لیکوال شو.
په ۱۹۴۷ ز کال کې یې د انیس ورځپاڼې مسوولیت پر غاړه واخیست او د میوندوال تخلص یې پر ځان کېښود. هغه په ورځپاڼه کې د خپلو اصلاحي افکارو د خپرولو پیل وکړ. لومړی ګزار یې پر فیوډالېزم او خان خانۍ و. ده غوښتل دا دود د خپلو لیکنو پر مټ ختم کړي او یا لږ تر لږه دې موضوع ته د روشنفکره طبقې پام کړي، چې خان خانۍ څومره خلک له ستونزو سره مخ کړي دي. بیا یې دا نظریه مطرح کړه چې د ښاروالانو ګومارل باید د خلکو خوښې ته پرېښودل شي او دوی رایه ورکړي. دې مسایلو د دربار حساسیتونه وپارول او داسې یې و انګېرله، چې ګواکې دا مسایل د دوی له پالیسۍ او سیاستونو سره په ټکر کې دي.
میوندوال چې کله د انیس ورځپاڼې مسوول و، نو د ژوندون په نامه مجله هم بازار ته راووته. ده هم پکې همکاري لرله. په انیس کې تر کار وروسته، د څه مودې لپاره د مطبوعاتو د مستقل ریاست مرستیال و. وروسته د پادشا مطبوعاتي سلاکار وګومارل شو. بیا یو کال وروسته د مطبوعاتو د مستقل ریاست د رییس په توګه وګومارل شو. دی چې کله دې څوکۍ ته ورسېد، نو انیس ورځپاڼې به د ولسي جرګې ټولې غونډې او بیانیې خپرولې. په دې وخت کې مهم شخصیتونه لکه استاد حبیبي، ډاکتر محمودي، ګل پاچا الفت او نور د ولسي جرګې غړي وو. هاشم میوندوال په مطبوعاتو کې مهم او له ویښتیا سره مل کارونه وکړل. ده په شعوري توګه هڅه کوله څو خپله ټولنه او وګړي د نړۍ له نوو او ګټورو افکارو سره اشنا کړي. له همدې امله یې لیکنې کولې او خلک یې په نړۍ کې د نوو حکومتونو له جوړښتونو او پرمختګونو خبرول. له دې ګټورو او اغېزناکو فعالیتونو وروسته، میوندوال په امریکا کې د افغانستان په سفارت کې د مستشار په توګه وګومارل شو. بیا یې د بهرنیو چارو وزارت د مرستیالۍ دنده پر غاړه واخیسته. میوندوال به د کابینې په غونډو کې ګډون کاوه. له مشهورو نړیوالو سیاستوالو سره یې کتل او پر مهمو هوکړو یې څرګندونې او نظرونه ورکول. یو ځل یې پر دې نظر ورکړ چې له روسیې سره د افغانستان پر تړون باید بیا کتنه وشي. د ده په خبره، په دې کې داسې موارد دي چې د افغانستان استقلال ته زیان رسوي، خو روسیې پر دې کار غبرګون وښود او له افغان چارواکو سره یې دا خبره ونه منله. له همدې امله په حکومت کې هم ځینې مخالفتونه ورسره پیل شول او حکومت دی امریکا ته ولېږه او هلته د افغانستان سفیر شو. کله چې سردار داوود خان استعفا ورکړه، نو د دوکتور محمد یوسف په حکومت کې میوندوال د مطبوعاتو د وزیر په توګه وګومارل شو، خو وروسته د ځینو دسیسو ښکار شو چې نږدې وو د مخالفینو په توطئه کې ووژل شي. وروسته دوکتور محمد یوسف خپله دنده پرېښوده او میوندوال د صدر اعظم په توګه وګومارل شو. میوندوال د صدارت پر څوکۍ تر ګومارل کېدو وروسته، د باور رایې د اخیستو لپاره پارلمان ته لاړ. هلته یې د خپل حکومت تګلاره بیان کړه او د وکیلانو له تاوده هرکلي سره مخ شوه. ده په خپله وینا کې وویل، د افغانستان نوی حکومت غواړي ټولو هغو توقعاتو ته پاملرنه وکړي چې د افغانستان خلک یې لري او د قانون په چوکاټ کې دي. ده وویل، ستر هدف دا دی چې په ټول هېواد کې بشري کرامت ته درناوی وشي، ولسواک نظام د افغانستان د ترقۍ او پرمختګ وسیله وګڼل شي او د خلکو معنوي او مادي پرمختګ تامین کړل شي. میوندوال ځیرک واکمن و. هغه چې کله پارلمان ته وینا پیل کړه، نو د وکیلانو تشویقونه یې له ځان سره لرل. ټولو په پوره خوشالۍ او چکچکو رایه ورکړه. ځینو وکیلانو خو د باور رایې تر ورکولو وروسته، هغه پر اوږو پورته کړ او په همدې شورماشور کې یې له پارلمان څخه را و ایست. په همدې وخت کې د کابل پوهنتون محصلینو ځینې لاریونونه کړي وو چې د حکومت له غبرګون سره مخ شوي وو. میوندوال لومړنی کار دا وکړ چې د پوهنتون وضعیت یې ځان ته روښانه کړ. ټولو مشوره ورکړه چې باید پوهنتون ته لاړ نه شي، ځکه محصلین به یې زیان ورته ورسوي. بلخوا شاهي کورنۍ نه غوښتل چې صدراعظم دې له مخالفو جهتونو سره وګوري، خو دی له ساتونکو پرته پوهنتون ته لاړ، له محصلینو سره یې غمشریکي وکړه، د دوی غوښتنې یې واورېدې او د عدالت د تامین ژمنه یې وکړه.
میوندوال د باور رایې له تر لاسه کولو سره سم په اصلاحاتو پیل وکړ. ده د پولیسو او نورو حکومتي ادارو په برخه کې اصلاحاتو ته متې و نغاړلې، خو په دې هم سترګې پټول نه دي پکار چې مخالفین یې آرام نه وو ناست. په تېره هغه کسان چې له روسیې سره یې خواخوږي لرله او یا په یو ډول نه یو ډول شاهي کورنۍ ته نږدې وو. دواړو لورو دا احساسوله چې ښایي خطرونه ورته متوجه وي، نو ځکه به یې په کارونو کې خنډونه ورته جوړول.
د میوندوال په خبره، د افغانستان ملي ژوند او کړه وړه باید ملي، تاریخي او فرهنګي اړتیاوو ته په کتو تنظیم شي. نوموړي به ویل، ولسواکي، ازادي، انساني کرامت ته درناوی، د قانون حاکمیت، مساوات، تعاون، ټولنیز پرمختګ او دې ته ورته نور هغه موارد دي چې افغانان شدیده اړتیا ورته لري او حکومت باید د خلکو دا ارمانونه پوره کړي. ده ویل، ملت د هر ډول تبعیض پر وړاندې ولاړ دی، خو د دې اړتیا ده چې دغه برخه نوره هم فعاله شي، خلک سره متحد شي، تبعیض ختم کړل شي، قبیله پرستي ختمه شي، تعصبات له منځه لاړ شي او استبداد زوال وکړي. هغه په اقتصادي، ټولنیزه، فرهنګي، مدني اخلاقي او معنوي برخه کې د ژوند د ښه کولو لپاره پراخ پلانونه لرل.
هاشم میوندوال په نړیواله کچه هم ثابت او واضح دریځ درلود. هغه په ۱۹۳۷ ز کال کې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان په استازیتوب وینا وکړه. هلته یې د اسرایلو پر فعالیتونو او پلانونو سخته نیوکه وکړه. ده وویل، په هر مکر او فریب چې وي، د خپلې خاورې پراخول او د نورو حقوق تر پښو لاندې کول د بشري او نړیوالو قوانینو ضد عمل دی، نو امریکا او اسرایلو ته پکار ده چې له ورته جنایتونو لاس واخلي. د هغه بیانیه خورا تونده او امریکا یا هم اسرایلو د افغان حکومت د داسې بیانیې تمه نه لرله. ډېری تاریخپوهان پر دې باور دي چې همدې بیانیې امریکایان او ځینې نور هېوادونه میوندوال ته متوجه کړل او د ده پر ضد یې د توطئو جوړولو ته ملا وتړله. په ده پسې لیکنې وشوې، په کور د ننه هم ځینې کړۍ په دې کار کې له امریکا سره ملې وې او ښایي په یو ډول نه یو ډول یې ملاتړ کاوه. همدا کشمکشونه وو، چې د میوندوال د حکومت دوره دومره اوږده نه شوه او د هغه ټول ارمانونه پوره نه شول.
د خپل حکومت پر مهال یې مهم کارونه کړي دي. د ګازو د استخراج کارونه یې پیل کړل، د اوبو بندونه یې جوړ کړل، د کابل- کندهار په څېر د لویو لارو د جوړولو چارې یې پرانیستې، فابریکې یې فعالې کړې، پراخ اقتصادي پلانونه یې لرل، خو د وخت حکومتونو یې پر وړاندې خنډونه جوړول او پلانونه یې ناکام بلل کېدل. سره له دې چې د میوندوال د اقتصادي پلانونو ان په نړۍ کې تود هرکلی له ځان سره درلود، خو دلته یې د عملي کولو څوک نه وو.
میوندوال هڅه کوله چې له ولس سره له نږدې اړیکه ولري. له ولس سره هسک تېټ کېده. د خلکو غوښتنې یې اورېدې. مطبوعاتو ته یې پراخه ازادي ورکړې وه. کتابونه چاپېدل او راډیوګانو فعالیت پیل کړ. ده یې ملاتړ کاوه او د دې پلوی و چې خلک په هر څه خبر وي. میوندوال له فشارونو وروسته استعفا ته اړ شو. بیا تر استعفا وروسته د درملنې لپاره بهر ته لاړ. پادشا ورپسې احوال واستاوه چې هېواد ته دې نه راځي، که وغواړي هر ځای یې د سفیر په توګه ګومارلی شي. خو میوندوال و نه منله او بېرته هېواد ته راستون شو. د خلکو په منځ کې هسک تېټ کېده او د خلکو په مجلسونو کې یې برخه اخیسته.
بیا چې کله شهید سردار داوودخان واک ته رسېږي، نو د حکومت په لومړیو کې یې ځینې کسان د یوې کودتا د پلانولو په تور نیول کېږي. له هغه ډلې یو هم هاشم میوندوال و. میوندوال همدلته د څرخي پله په زندان کې سا ورکوي او د نوموړي د مرګ په اړه هم ضد نقیض معلومات دي. مخالفین یې پر دې باور دي چې هغه ځان زندۍ کړی دی. خو پلویان یې وایي چې هغه د مخالفینو له لوري تر محکمې مخکې په زندان کې ووژل شو.
میوندوال د هېواد لپاره مهم پلانونه لرل، خو د ولسواکۍ لسیزه په افغانستان کې نوې وه. ولسواکي او مشروطه نظام په افغانستان کې نوې تجربه وه، نو ځکه لا هم له صدراعظم سره دومره واک نه و، چې هغه دې د خپلو پلانونو په عملي کولو کې دومره پیاوړی وي. نو ځکه د میوندوال او نورو مطرحو شخصیتونو د هغه وخت ډېر مهم او اغېزناک پروګرامونه او پلانونه بې پایلې پاتې شول.

همیانۍ

# آیا د ځان لپاره موخې لرئ؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

کېدای شي کله چې څوک درنه دا پوښتنه کوي، چې «ستاسې موخې څه دي؟» داسې ووایئ چې د موخې لرل څه ګټه لري؟ اصلاً باید یو عاقل انسان موخې ولري او له موخې پرته ژوند کولو ته زړه ښه نه کړي. د موخې نه لرل انسان یو ډول بې تحرکه اموخته کوي او ژوند ورته یو ډول تکراري کېږي. موږ په همدې مقاله کې تاسې ته وایو چې له دې پوښتنې چې «آیا موخه لرئ؟» مو موخه څه ده او ولې یې کوو. ممکن له تاسې ډېری یې اوس هم موخې ولري او د رسېدو لپاره ورته کار کوي.

**ولې مو موخې رانه هېرېږي؟**

یاد مو دي، کله چې تاسې ماشومان وی، څومره هیلې او موخې مو درلودې؟ کله به چې مور او پلار د لوبو د سامانونو د اخیستو او یا هم د جامو او بوټو اخیستو ژمنه راسره وکړه، تر هغې به یې چې نه وو راته اخیستي، څومره به ورته انتظار وو او په ذهن کې به مو څه څه تصور کول. خو کله چې ورو ورو لوی شوو، پلار او مور به راته ویل چې لاړ شئ، ډېرې لوبې مه کوئ او درس مو ووایئ. هغوی به ویل، که غواړئ ښه ژوند ولرئ، باید ډېر زحمت تېر کړئ، خواري وکړئ او بالاخره ښه ژوند او ارامۍ ته ورسېږئ. کله به مو چې دا وخت هغوی ته د یو څه په اړه وویل، هغوی به ویل، تاسې دا څه کوئ، تاسې یې نه شئ ساتلی، تاسې د هېڅ هم نه یاستئ، تاسې د شي په ساتلو کله پوهېږئ، تاسې... دا خبرې یوې دوه ځلې نه، بلکې په سلونو ځلې راته شوې دي، کله چې موږ پر یو څه وپوهېدو یا د یو کار او غریبۍ شوو، نور مو دا فکر نه کاوه چې څه مو خوښېږي او باید څه وکړو، بلکې داسې فکر مو کاوه چې موږ باید شپه او ورځ کار وکړو، ماښام ستړي کور ته راشو او سهار وختي بیا په کار او غریبۍ پسې ووځو. موږ ته هغه وخت د خپلو هغو موخو په اړه چې رښتیا هم زموږ زړه غوښتې، هېڅ هم ونه ویل شول، موږ د هغه د پاللو پر ځای په غریبۍ پسې لاړو او له هغه لرې وساتل شوو. هماغه وو چې له موږ څخه خپلې موخې او هیلې پاتې شوې او د وخت په تېرېدو مو د خپلو هیلو او موخو په اړه فکر نه کول یا هغه ته د رسېدو لپاره کار نه کول، عادت شول. موږ نور شپه او ورځ د کار په لټه کې وو او نه مو دا پوښتنه کوله چې زموږ موخې څه دي. خو ماشومان اوس هم له ځانه دا پوښتنه کوي.

که اوس هم له ماشومانو پوښتنه وکړئ، چې ستاسې موخې څه دي یا څه غواړئ، وایي، غواړم ډاکتر شم، غواړم انجنیر شم، غواړم افسر شم؛ خو څه به وشي که هغه کار نور پرېږدو چې اصلاً مو نه خوښېږي. موږ ته اوس اصلاً د موخو په اړه خبرې کول یو ډول عذاب راکوونکی کار دی، کله چې څوک راته ووایي چې ستاسې موخې څه دي، یو ډول تر فشار لاندې راځو او ډېری وخت خو مقابل لوري ته وایو، یاره ته خیال پلوونه وهې، موږ او دا کارونه، پرېږده.

موږ دا نه وایو چې تاسې له کار او غریبۍ لاس واخلئ، کار مه کوئ او یوازې د خپلو هیلو او موخو پاللو پسې شئ، زموږ ټولنه بې له حده زیاتې ستونزې لري، زموږ اقتصادي وضعیت د دې ډاډ نه راکوي چې ټول وخت خپلو موخو ته ځانګړی کړو، خو موږ وایو، راځئ چې له ورځنیو کارونو او ستړیاوو سره سره، هره ورځ خپلو موخو ته د رسېدو لپاره یو یو ساعت کار وکړو، لرې نه ده چې د همدې یوه ساعت کار پر مټ به یوڅه وخت وروسته که ډېر نه وو، یوڅه خو به خپلو موخو ته نږدې شوي وو. د ارواپوهنې استادان وایي، هره ورځ پر خپلو موخو نیم ساعت فکر کول او هره ورځ هغه ته د رسېدو لپاره یو ساعت کار کول، د پیاوړو او په نړۍ کې د بریالیو کسان کار دی. تاسې هم بریالي کسان یاست، خو که هره ورځ همدا کار تر سره کړئ.

**څنګه خپلو موخو ته ورسېږو؟**

ډاکتر مایلز مونرو پېژندل شوی لیکوال وایي: «موخې لرل د ځمکې پر مخ تر ټولو لویه ورتیا لرل دي، همدا قدرت دی چې انسان له نن څخه سبا ته د ښه ژوند لرلو ته هڅوي. دا حقیقت دی چې د نړۍ پر مخ تر ټولو بې موخې کسان ډېر غریب دي». که په نړۍ کې د وتلو او د انسانیت لارښوونکو کسانو ژوند ته پام وکړو، پوهېږو چې هغوی هر وخت د خپلو موخو د پاللو لپاره کار کړی او دا اور یې زړه کې نه دی مړ کړی. موخو ته رسېدل د هغوی د ذهن پر مخ حک شوي دي او هغو ته د رسېدو په پار یې تصمیمونه نیولي دي.

د نړۍ نننی تر ټولو لوی اختراعات لومړیو کې د یو انسان هیله وه. د بېلګې په ډول، الوتکه، موبایل، ریل ګاډی، کمپیوټر او نور. دا ټول لومړیو کې موخې او هیلې وې او حتی ډېری خو یې لومړیو کې مسخره شوي هم دي. رښتیا که هغوی له خپلو موخو په شا شوي وای، نن به موږ له دغو اسانتیاوو برخمن وو؟

پوهېږئ، ډېر وخت یوازې په ذهن کې د موخو لرل او د هغه نه پالل هم د دې سبب کېږي، چې نور موږ د موخې په نوم څه ونه ټاکو، کله چې په وار وار په ذهن کې د یو څه په اړه د لاسته راوړلو هیله ولرو، خو په واقعیت کې ترې محروم شو، دا کار په وار وار له تکرار وروسته پر یو عذاب وجدان بدلېږي. تاسې لومړی موخې په دقت وټاکئ او وروسته یې د لاسته راوړلو لپاره سخت کار وکړئ. حتمي ده چې په لومړیو کې به له ستونزو، نیوکو، ماتو او وار وار د هغې له لاسه ورکولو سره مخ شئ، خو دا په یاد لرئ چې د پرله پسې استقامت په پایله کې به بریا ستاسې وي. او که تاسې یوازې په زړه کې د یوڅه ارمان لرئ او ورته د رسېدو لپاره کار او هلې ځلې نه کوئ، دا به یوازې د هوا د مرغانو شړل او یا له وړو تیرو د بند جوړول وي.

**پر همدې اساس غواړم یو ځل بیا له تاسې داوپوښتم، چې ایا تاسې موخې لرئ؟**

یو ځل بیا تاسې هماغه خپل ماشوموالي ته ور وګرځئ، هرڅه به لکه ماشوم رښتیا وایئ. اوس تاسې هم لکه ماشوم ووایئ، ستاسې موخې څه دي یا څه غواړئ؟ لطفاً خپلې موخې مه پټوئ، مه یې محدودوئ او مه پرې شرمېږئ. زړه ته مو اجازه ورکړئ چې خپلې غوښتنې په لوړ اواز له تاسې وغواړي، ممکن همدا غوښتنه په تاسې کې هغې ته د رسېدو شور راپیدا کړي. ممکن بیا وغواړئ چې یو ځل بیا ماشومان شئ، دا کومه بده خبره نه ده، خدای پاک په تاسې کې دا توانایي خلق کړې ده، چې پر مټ یې خپلو موخو ته ورسېږئ.

موخې ته د رسېدو لپاره هره ورځ کار وکړئ له ما څخه ډېری وخت ډېر دوستان دا پوښتنه کوي، چې غواړې څه لاسته راوړې؟ خو زه له تاسې تر دې هم یوه مهمه پوښتنه لرم: غواړئ څه جوړ شئ؟ د دغو پوښتنو ترمنځ توپیر دا دی چې لومړۍ د بیرون په اړه پوښتنه کوي او دویمه د درون په اړه. کله چې تاسې د درونه جوړ شئ، هماغه دي چې بیا به پر خپل بیرون هم برلاسي شئ.

دې پوښتنه ته ښه فکر وکړئ، غواړې څه جوړ شې؟ له دې پوښتنې مو موخه دا ده، چې تاسې د ځان لپاره یو ایډیال کس غوره کړئ او کوښښ وکړئ چې بالاخره تاسې هم یوه ورځ د نورو لپاره یوه ښه الګو یا ایډیال شئ او تر ټولو مهمه دا چې د ځان لپاره تر ټولو ښه کس و اوسئ.

## سیاسیون: که د سولې له فرصت نه استفاده ونه شي، خطرناکې پایلې به ولري

د سولې محور په نامه مرکز لخوا د ځینو علمي او سیاسي شخصیتونو په ګډون، په ((اتلس کاله په اور کې)) څېړنیز سیمینار کې سیاستوال وایي، د سیاسي قشر هغه اندېښنې پر ځای ثابتې شوې چې د سولې او انتخاباتو په تړاو یې درلودې.

د پخواني ولسمشر د دفتر رییس عبدالکریم خرم وایي، که طالبان له امریکا سره د خبرو ترڅنګ هممهاله بین الافغاني مذاکرات تر سره نه کړي، متحده ایالتونه به د سیمې له هېوادونو سره د خپلو ځواکونو د حضور او اډو په باب معامله وکړي، چې له امله به یې بین الافغاني مذاکرات جنجالي او اوږده شي او حکومت به نور هم ضعیف او په څو برخوووېشل شي.




خرم وایي: «اوس خو طالبانو ته دا انتبا پیدا ده چې موږ امریکایان اړ کړل چې زموږ سره خبرې وکړي، نو موږ اول له دوی سره د دوی د حضور خبره حل کوو او بیا له افغانانو سره خبرې کوو، که دغه دواړې خبرې همزمان نه وي، نو امریکا به خپله مسئله د سیمې له هېوادونو سره په معاملو کړې وي او بیا به بین الافغاني خبرې جنجالي کېږي».

نوموړی خبرداری ورکوي چې د سولې خبرې یو چانس دی او پر فرصت د چانس بدلول هوښیاري غواړي او که دا کار ونه شي خطرناکې پایلې درلودای شي.

خرم وایي، د سیمې یو هېواد د سیمې د څو نورو هېوادونو په مرسته هڅه کوي، چې د ستراتیژیکو اهدافو لپاره د بدخشان ولایت په پامیر کې مستقل دولت رامنځته کړي.

په ورته مهال د سیاسي ګوندونو غړي او شخصیتونه وایي، امریکا په ترهګرۍ ضد جګړه کې ناکامه شوې او د اتلس کلن حضور پایله یې د ترهګرو ډلو پیاوړتیا، جګړې تشدېدل او ملکي تلفات دي.

د اکتوبر اوومې په تړاو دغه سیمینار داسې مهال دی، چې د شنونکو په وینا، په افغانستان کې د امریکا اتلس کلن حضور له امله نه یوازې ترهګري ختمه نه شوه، بلکې تازه ترهګرو ډلو سرونه را پورته کړل او افغانستان عملاً د هېوادونو د نیابتي جګړو پر میدان بدل شوی دی.

CoAR
1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

**اعلان داوطلبی**

مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغان‌ها (CoAR) به کمک مالی OCHA تصمیم دارد تا به مهاجرین وبیجاشده گان متاثر از جنگ در ولایت کندهار، ولسوالی‌های سپین بولدک، ژیری و تخته پل کتابهای صنف اول خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوجستیکی وطباعتی علاقه‌مند که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (October 06, 2019) الی (October 12, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

**خانه نمبر ۱۶۷۶، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل**

procurement@coar.org.af

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۵ |
| € | ۸۵,۶۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۵,۹۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



**المبارک**

**توریستي شرکت**

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!




flydubai · TURKISH AIRLINES · Emirates · ARIANA

0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



سه شنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۱٦مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر اتمه | ٤٤۱مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| | کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ▲ | ۲۳ | ۳۲ | ۳۳ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ▼ | ۹ | ۱۲ | ١٤ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۰ | لمر ختل ۰۵:۵۲ | ماسپښین ۱۱:٤۲ | مازدیگر ۰۳:۰۰ | ماښام ۰۵:۳۱ | ماخوستن ۰٦:۵٤

## نړۍ



## سپینه ماڼۍ: امریکا به د ترکي ځواکونو په عملیاتو کې هیڅ رول ونه لوبوي

۳

## ولسی جرگه: برای نظارت از پروسهٔ انتخابات و جدا کردن آرای سیاه و سفید هیئتی را توظیف می کنیم



ولسی جرگه خواستار جدا کردن آرای سیاه و سفید انتخابات ریاست جمهوری شده و اعلام کرد که هیئتی برای نظارت از کارکرد کمیسیون های انتخاباتی در این راستا به خصوص شمارش آرا توظیف می کند.

این درحالی است که ادعاهای از تقلب و تخلف در انتخابات وجود دارد که نگرانی های اعضای ولسی جرگه را نیز برانگیخته است.

حاجی الله گل مجاهد نماینده مردم کابل در ولسی جرگه در نشست دیروز این جرگه گفت که حکومت افغانستان نتوانسته است، سیستمی را ایجاد کند که به اساس آن انتخابات به شکل شفاف برگزار شود و نتایج آن مورد قبول همه باشد.

او می گوید که در انتخابات ششم میزان فساد گسترده صورت گرفته است و در آمار رای دهنده گان این انتخابات نیز مبالغه شده است.

به گفتهٔ او، معلوماتی که در اختیار دارد، نشان می دهد که حدود یک میلیون دو صد هزار تن در انتخابات ششم میزان شرکت کرده اند.

این درحالی است که کمیسیون مستقل انتخابات گفته است که در این انتخابات حدود ۲.٦ میلیون تن شرکت کرده اند.

الله گل مجاهد خواهان تفکیک آرای سیاه از سفید شد و گفت که تنها باید آرای بایومتریک شده اعتبار داده شود.

میر رحمان رحمانی رئیس ولسی جرگه گفت: «برای حاکمیت قانون نمی توان از شیوه های غیرقانونی استفاده شود، حالا وظیفه کمیسیون های انتخاباتی است که مسؤلانه و صادقانه و بدون تاثیر پذیری از فشار و زورگویی تنها آرای صاف و قانونی را مورد شمارش قرار دهند».

او گفت که برای رفع نگرانی اعضای ولسی جرگه از تأمین شفافیت در پروسه انتخابات به خصوص روند شمارش آرا هیئتی توظیف می شود تا به صورت دوامدار از این پروسه نظارت نمایند و یافته های شان را با جرگه شریک سازند.

## جرمني: اروپا به په راتلونکي کې د کډوالو له بې سارې جوپې سره مخ شي



د جرمني د کورنیو چارو وزیر هورسټ زیهوفر خبرداری ورکړی چې اروپا به په نږدې راتلونکي کې د کډوالو له یوې بې سارې لویې جوپې سره مخ شي.

نوموړي چې تازه یې د ترکیې او یونان له چارواکو سره د کډوالۍ پر سیاست خبرې کړې، خبرداری ورکړی چې که اروپایي متحدین دې ستونزې ته حل پیدا نه کړي، وضعیت به له کنټروله ووځي.

هغه د جرمني له رسنیو سره په خبرو کې ویلي: «موږ باید له اروپایي متحدینو سره د پولو په کنټرول کې مرسته وکړو، موږ له ډېرو وختونو راهیسې دوی یوازې پرېښي، که دا شی همداسې دوام وکړي، وضعیت به بیا د ټولو له کنټروله ووځي».

نوموړي دغه راز یوځل بیا پر ترکیې او یونان غږ کړی چې خپلې پولې کنټرول کړي او پرې نه ږدي چې د کډوالو نوې جوپې د اروپا پر لور مخه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ملگرو ملتونو د کډوالۍ سازمان له مخې، په تېرو نهو میاشتو کې د تېر ۲۰۱۸ ز کال په پرتله، زیات کډوال د ترکیې او یونان له لارې اروپا ته تللي دي.

د یادونې ده چې ترکیې او اروپایي ټولنې په ۲۰۱٦ ز کال کې هوکړه وکړه، چې ترکیه به د اروپایي ټولنې د مالي مرستو په بدل کې، سوري کډوالو ته په خپل هېواد کې ځای ورکوي او اجازه به نه ورکوي چې اروپا ته لاړ شي.


CoAR 1989

**هماهنگی کمک ها برای افغانها**

**Coordination of Afghani Relief**

## اعلان داوطلبی


مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغان‌ها (CoAR) به کمک مالی ECW تصمیم دارد تا به مهاجرین وبیجاشده گان متاثر از جنگ در ولایت کندهار، ولسوالی‌های دامان و ارغنداب تشنابها را اعمار نماید. انعده شرکت‌های ساختمانی علاقه‌مند که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (October 08, 2019) الی (October 15, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

**خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.**

procurement@coar.org.af


## ژونـــد

## پر موخه تمرکز مو بریا تضمینوي



کلونه وړاندې مې د فوټبال یوه لوبه کتله، د پلې اف لوبه، ډېره په زړه پورې وه. ډېر لږ وخت پاتې او مېلمه ټیم یوې نمرې ته اړتیا لرله، هغه یې کوله چې په وروستیو شېبو کې گول ووهي او د تېر په څېر بریالی شي. هغه لوبغاړي چې توپ یې په واک کې و، هڅه کوله د ژوند تر ټولو ځواکمن شوټ ته ځان تیار کړي. د مقابل ټیم پلویانو په لوړو اوازونو هڅه کوله چې فکر یې منحرف کړي. همدا چې ځان به یې ورته تیاراوه، لږ تر لږه اتیا زرو کسانو به یو ځل چیغې کړې، خو نوموړي خپل حواس را ټول کړي وو، له شور او ځوږ سره سره یې د ټلویزیون پر لوی سکرین د هغه د تېروتنو وېډیو هم پلې کړې وه، چې نوموړي په نورو لوبو کې تکرار کړې وې، خو کله یې چې شوټ وواهه، بریالی و. هغه وه چې لوبه یې وگټله. له لوبې وروسته خبریال ترې وپوښتل، څه ډول دې د اتیا زرو کسانو له چیغو او شور سره سره، مبارزه وکړه او فکري توازن د ساتلی و؟

لوبغاړي یې په ځواب کې وویل:


ما هېڅ غږ نه اورېد، یوازې له ځان سره مې ویل، ته دغه کار کولای شې او ته یې د تر سره کولو وړتیا لرې.

خبریال ورته وویل، د ټلویزیون پر لوی سکرین دې د پخوانیو تېروتنو په اړه څه وایې؟

لوبغاړي په خندا سره وویل:

هغه مې ولیدې، خو په اړه مې یې نه فکر وکړ او نه مې چنداني ارزښت ورکړ. تاسو هم د خلکو غږونه مه اورئ او په تېر کې مو د تېروتنو په اړه ډېر فکر مه کوئ. پر ښو خبرونو باور وکړئ او پر منفي هغو بیا تمرکز مه کوئ.

## په یخو اوبو د مخ مینځلو له دې گټو خبر یاست؟



موږ او تاسې ډېر کله په گرمو اوبو مخ او لاس پرېمینځو؛ خو ډاکتران وایي، په یخو اوبو مخ پرېمینځل زیاتې گټې لري. په یخو اوبو سره د مخ چاودنه او نینکۍ رغېږي او سترگې نرمې ساتي. یخې اوبه د مخ گونځې له منځه وړي او پوستکی ځوان او تازه ساتي. هره ورځ مخ په یخو اوبو سره مینځل د مخ پوستکی له زوړوالي ژغوري، په یخو اوبو سره د مخ پرېمینځل، د لمر پر وړاندې د مخ د پوستکي مقاومت زیاتوي.